SHARIAT WEEKLY

شریعت
اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال شپږ خلویښتمه ګڼه پرله پسې (۱۴٦) چهارشنبه د۱۴۱۹هق کال دربیع الاول (۲۱) د۱۳۷۷ هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتي (۲۴) د۱۹۹۸میلادي کال دجولاي (۱۵)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته . (سورة المائدة)

جلسه مسوولین امارت اسلامي افغانستان در ولسوالي بورکه ولایت بغلان دایر گردید

جلسه مسوولین امارت اسلامي افغانستان در ولسوالي بورکه ولایت بغلان دایر گردید .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از کندز گزارش میدهد : در جلسه متذکره علاوه بر اشتراک مسوولین اداري و نظامي آنجا محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور و محترم گوجر اخند زاده عالم جید شرکت ورزیده بودند، در جریان جلسه محترم گجر اخند زاده در رابطه به موضوع مفصلاً صحبت نموده وظایف و مکلفیت هاي مسوولین مربوط را که در قبال نظام اسلامي و مردم مسلمان افغانستان دارد در پرتو احکام قرآني تشریح و توضیح نمود.

در اخیر جلسه روي امور مربوط آنجا تصامیم مقتضي اتخاذ گردید.

طبق یك خبر دیگر محترم حاجي اسلم آغا رئیس کمیسیون اصلاحي ولایت کندز قطعات و جزوتامهاي مجاهدین اردوي اسلامي مستقر در مربوطات ولسوالي بورکه دیدن نموده با مسوولین و مجاهدین قطعات متذکره صحبت هاي لازم بعمل آورده و آنان را به وجایب و مکلفیت هاي شان متوجه ساخته تا بیش از پیش در راه خدمت بمردم مسلمان افغانستان قرار گیرند.

د امنیت د نشتوالي له امله زیات شمیر هیوادوال له تخار څخه مهاجرت ته اړ شوي دي

د امنیت او د مسؤولو مراجعو نشتوالي او د اسلامي امارت د مخالفو ډلو لخوا د لوټ او تالان دوام ددي سبب شوي چي زموږ زیات شمیر هیوادوال د تخار له ولایت نه هجرت وکړي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د عیني شاهدانو په قول چي په دې وروستیو وختو کي د تخار ولایت له مربوطاتو نه راغلي دي ریوټ راکړ د مخالفو ډلو قوماندانان او وسله وال افراد ددغه ولایت په خلکو باندي له هیڅ ډول ظلم او زور نه ډډه نه کوي ؛ کورونو او دکانونو د تیرلو په ترڅ کي د وسلي له زور نه په استفادي سره د کورونو اودکانونو سالونه لوټوي او ان د خلکو پر ناموس باندي په بیرحمي سره تیري کوي. الغلوروم مخ

به منابت دستار بندي حافظان در ولایت غور محفلي تدویر گردید

به مناسبت دستار بندي حافظان در ولایت غور محفلي در ریاست معارف آنولایت تدویر یافت.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر چغچران خبر میدهد : در این محفل بعد از آنکه آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردید محترم مولوي سعید احمد شهید خیل معین اداري وزارت معارف، محترم مولوي عبدالرحمن والي غور و محترم مولوي نعیم گل رئیس معارف آن ولایت بالترتیب در رابطه به نقش علما و حافظان قرآن عظیم الشان در جامعه صحبت نموده اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي افغانستان را در باره انکشاف و توسعه هر چه بیشتر امور دیني در کشور ص ۴۰

د فاریاب په فتحه شوي ولایت کي سوله او امنیت ټینګ دي

د هغه ولایت مجاهد خلك د پرولیرو پرتو سیموڅخه د تصفیي ګروپونو ته په اسونو او کچرو وسلي او نظامي تجهیزات رسوي

د ازبکستان او تاجکستان نه را الوتي الوتکي په میمني او د فاریاب د نورو سیمو بر بي دفاع ملکي خلکو باندي بمبارد کوي

د اسلامي امارت د نظامي او امنیتي چارواکو د خبر له مخي الحمد لله اوس د فاریاب په فتحه شوي ولایت کي بشپړه سوله او امنیت ټینګ دي او د وسلو د تصفیي بهیر په ډیره چټکي سره پر مخ روان دي.

توموړو سرچینو وویل چي د هغه ځاي مجاهد خلك په ډیر اخلاص او مینې سره د وسلو د تصفیي بهیر سره پوره مرسته کوي او د پرو لیرو پرتو سیمو څخه په اسونو او کچرو وسلي او نور نظامي تجهیزات د تصفیي ګروپونو ته رسوي او تسلیموي یې.

خبر ځاي زیاته کړه چي هغه کمیسیون چي د عالیقدرامیر المؤمنین لخوا د کورنیو چارو د وزارت سرپرست محترم ملا خیر الله خیرخواه په مشري جوړ شوي دي په ډیر اخلاص او هوښیاري سره د خلکو د امنیت او د عمومي د سر او مال د حفاظت چاري سرته رسوي .

خبر ځاي وایي چي له ازبکستان او تاجکستان نه را الوتي الوتکي پر میمني او د فاریاب په نورو سیمو کي پر ملکي بي دفاع خلکو باندي وحشیانه بمبارد کوي چي له دي لاسیله خلکو ته ځاني او مالي تاوان ور رسیږي .

د سرپرستي شورا محترم رئیس یو تن ملي سوداګر حضور ته ومانه

د سرپرستي شورا رئیس محترم الحاج ملا محمد رباني د هیواد یو تن ملي سوداګر خپل حضور ته ومانه .

د سرپرستي شورا مطبوعاتي دفتر د باختر اطلاعاتي آژانس ته خبر ورکړ ددغي کتني په ترڅ کي د اسلامي بانك رئیس او د هیواد ملي سوداګر محترم ګلاب .... غلوروم مخ

بخاطر اعمار یك مدرسه یکتعداد از تاجران کشور مبلغ دوصد و بیست و دو ملیون افغاني مساعدت نمودند

بخاطر اعمار مدرسه قریه زاخیل شهر کندز اخیراً مبلغ ۲۲۲ ملیون افغاني از طرف یك تعداد از تاجران افغاني مقیم کارخانوي شهر پشاور مساعدت گردیده است .

مبلغ متذکره از طرف محترم حاجي ثمر گل ، عزیزجان عمرزي، حیات الله خان و اکبر دستوخیل بمدرسه متذکره پرداخته شده که با ابراز امتنان پذیرفته شد.

امریکا به ملګرو ملتونو کي د ونډي حق نه محرومه کړي شي

د ملګرو ملتونو عمومي منشي کوفي عنان

نیویارك: د نړیوالو خبري منابعو د خبر له مخي ویل کیږي چي د ملګرو ملتونو عمومي منشي کوفي عنان ګرګنده کړي ده چي که چیري امریکا د ملګرو ملتونو واجبات (پوروونه) ادا نه کړي نو په هغه صورت کي به په عمومي اسامبله کي د رووټ د حق نه محروم کړي شي.

کوفي عنان ددغو ګرګندونو سره دا هم ویلي دي چي زه هیله لرم چي امریکا به د ملګرو ملتونو پوروته ادا کړي .

د ملګرو ملتونو د محاسبي له مخي باید امریکا دغه نړیوال سازمان ... غلوروم مخ

محترم الحاج قاري برکت الله "سلیم" در مصاحبه با خبرنگار هفته نامه شریعت:

تاکنون در دوازده مسابقه جهاني قرائت قرآن اشتراك نموده ام که نتایج همه آنها مقام اول بوده است

بیشتر از (۳۰) هزار نفر به سویه هاي مختلف از تدریس بنده کم و زیاد بهره مند گردیده اند

منزل کوچك بنده در سالهاي جهاد به محل پرورش جوانان مجاهد و بالاخره به مرکز پناهگاه مجاهدین تبدیل گردیده بود

مدرسه آموزش علوم اسلامي خواجه علي موفق هروي «رح» واقع مسجد جامع هراتي ها که در شهر نو کابل موقعیت دارد، همه روزه در آن از طرف صبح اضافه از پنجصد نفر ذریعه محترم الحاج استاد قاري برکت الله «سلیم» و دیگر علماي جید کشور، تحت آموزش تعالیم اسلامي، تفسیر، تجوید و قرائت قرآن عظیم الشان قرار میگیرند.

خبرنگار هفته نامه شریعت با استفاده از فرصت مصاحبه یي را با محترم الحاج استاد قاري برکت الله «سلیم» ترتیب نموده است که توجه شما عزیزان را به سوالات آن فرامیخوانیم .

نخست از محترم الحاج استاد قاري برکت الله «سلیم» پرسیده شد علاوه از اینکه درین مدرسه معروف ص ۴۰

د جبري عسکري خدمت له امله :

د روسیي ځلوینبت زره عسکرو تیښته وکړه

مسکو : د نړیوالو مولفو خبري منابعو په حواله ویل کیږي چي څه د پاسه څلویښت زره تنه روسي عسکر چي په جبري شکل عسکري خدمت ته بیول شوي ؤ د خپلو پوځي مرکزونو نه تیښتدلي دي. دغو منابعو زیاته کړي ده چي د روسي پوځیانو په دغه هیواد کي اقتصادي بحران له وجي په تیرو څو میاشتو کي معاشونه نه دي اخیستي او د اقتصادي پلوه روسي پوځیان له سختي پریشاني سره مخامخ دي.

د روسیي اقتصادي بحران ددغه هیواد پر بنیاد باندي دومره منفي اغیزه کړي ده چي حکومت خپله پوځي بودجه لا نوره هم کمه کړي ده .

د روسیي پوځیان اوس دداسي مالي بحران سره مخامخ دي چي د دي دراننده باره نه دنه وتلو په صورت کي ځانونه وژني او د ځان وژني پیسي د روسیي د پوځ په قطعاتو کي د هري ورځي په تیریدو سره مخ په زیاتیدو دي.

د صدراعظم سرګي کرینکو حکومت زیاتي هڅي کوي چي د مالي غلوروم مخ

دري تنه غله ونیول شول

دوه تنه وسله وال غله د کابل ښار په مربوطاتو کي ونیول شول.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : شاه محمود د رستم خان زوي او محمد طاهر د محمد طاهر زوي چي په ... واله توګه یي زموږ د یو تن هیواد وال د اکور مالونه غلا کړي و د شپږمي امنیتي حوزي د موظفینو لخوا ونیول شول.

همدارنګه یو بل تن هم د کابل ښار په مربوطاتو کي ونیول شو . د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ : ذبیح الله د اغا محمد زوي چي د کورونو یوه اندازه مالونه یي غلا کړي و د لومړي امنیتي حوزي د موظفینو لخوا د باغ علیمردان په سیمه کي ونیول شو پېښه تر څیړني لاندي ده .

د کرنې او مالداري یو کوپراتیف د لوګر په ولایت پرانستل شو

د کروند ګرو او مالدارانو د ستونزو د لرې کولو په خاطر ددي سلونه دوه سوه نوي زره افغانیو په پانګه د کرنې او مالداري یو کوپراتیف په دې وروستیو وختو کي د لوګر ولایت د چرخ په ولسوالي کي پرانستل شو.

د کرنې او مالداري وزارت یو مربوط قیر ځاي د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل : د کرنې او مالداري لومړنی کوپراتیف دي چي کروندګرو او مالدارانو ته د اسانتیاوو د برابرولو په خاطر د اسلامي نظام د پېنګښت او د درنو طالبانو د اسلامي تحریك لخوا د سولي او امنیت له تامین وروسته د لوګر په ولایت کي جوړیږي .

دغه کوپراتیف چي شپاړلس تنه غړي لري د یو ملیون شپږ سوه زره افغانیو د ... غلوروم مخ

یك قطعه زمین از وجود بته هاي چرس پاك گردید

موظفین ریاست امر بالمعروف و نهي از منکر ولایت میدان وردك اخیراً یك قطعه زمین را که در آن چرس زرع گردیده بود کشف و بته هاي آنرا از بین بردند.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش میدهد چرس متذکره که ص ۴۰

مسابقات والیبال بین تیم هاي پوهنځي هاي مختلف پوهنتون کابل جریان دارد

در سلسله مسابقات والیبال پوهنتون کابل تیم والیبال پوهنځي اقتصاد دو مقابل صفر بر تیم والیبال پوهنځي ساینس و تیم پوهنځي انجنیري دومقابل یك برتیم والیبال پوهنځي وترنري غالب گردید.

در مسابقاتي که از چند روز به این طرف بین تیم هاي والیبال پوهنځي هاي مختلف پوهنتون کابل در جریان است علاوه از پیروزي تیم هاي فوق الذکر تیم والیبال پوهنځي غلوروم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ضرورت بررسي قوانین و مقررات

بر قراري و تنظیم روابط اجتماعي تامین عدالت و ارتقاء مادي و معنوي جامعه بر چگونگي قوانین و مقررات ارتباط پیدا مینماید. هویت و حقیقت نظامهاي سیاسي و ادارات حکومتي از قوانین و مقررات حاکم بر آنها معلوم میگردد، اگر مقررات و قوانین حاکم بر آنها اسلامي بود به یقین گفته میتوانیم که آن نظامها و حکومتها اسلامي و شرعي میباشند، اگر چنین نباشند به جرأت و صراحت گفته میتوانیم که آن نظامها و حکومتها به شیوه اسلامي اتکا نداشته و عمل نمي نمایند. گرچه در محدوده جغرافیایي بنام کشور اسلامي حاکمیت داشته باشند، زیرا آن حکومتها و نظامهاي سیاسي که به اساس روحیه دین خدا حکم نمینمایند مسؤول پنداشته میشوند

دوهم مخ

شریعت

دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هینت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دبري ګڼي بیه : په هیواد کي (١٠٠٠) افغاني پهپاکستانکي(٣) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ٢٠٠٧٥
په پیښور کي :دطالبانونمایندګیتیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٢٧
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

که در زمینه کتاب خداوند«ج» به این معني ارشاد مي فرماید : « کسیکه حکم نمینماید به آنچزیکه از طرف خدا«ج» نازل شده است پس اوشان ظالمان اند» در دیگر جاي نسبت فاسق به اوشان شده و در دیگر آیه مبارکه نسبت کافر به آنها متوجه گردیده است .

امارت اسلامي افغانستان جدي ساعي میباشد که همه روابط و ضوابط آنرا شریعت اسلامي تشکیل داده و عملاً اسلام بر جامعه حکومت نماید و ازطرف دیگر بر ضرورت حفظ تسلسل قوانین و مقررات در جامعه معتقد میباشد به همین اساس از تدوین و تأسیس قوانین و مقررات جدید جلوگیري نموده یك شوريٰ از علماء، قضات و دانشمندان مسلکي و با تجربه را توظیف نمودند تا این شوريٰ بر همه قوانین و مقررات نافذه کشور غور، تحقیق و تدقیق نموده ، دفعات و ماده هاي را که با شریعت اسلامي و سیستم فقهي مسلك حنفي که بیشتر از نود فیصد مردم مسلمان افغانستان پیروي آنرا افتخار خود میدانند، تضاد دارد حذف و از قوانین و مقررات خارج نمایند که این امر و اقدام نیکو از یك طرف قوانین و مقررات کشور را با شریعت اسلامي که خواست اولي ملت مسلمان افغانستان میباشد تطابق بخشیده و از جانب دیگر ضرورت وضع قوانین جدید را - که باید در یك فضا همه جانبه آرام و مطمین به اشتراك دانشمندان همه رشته هاي زنده گي صورت گیرد کــــه متاسفانه چنین نمیشود زیرا اکثراً در دیار هجرت و غربت بسر میبرند - رفع مینماید.

خداي دي له بدو سترګو وساتي له افغانانو سره د مرستي په نوم د مرستندویه مؤسسو او این، جي اوګانو شمېر له سلګونو هم ور اوښتي دي خو افغانستان هماغسي کنډواله او افغانانوړي اودر په دردي.

د کابل په وزیر اکبر خان مینه او نوي ښار کي يو کور وروسته بوه لوحه داسي وي چي د مرستي او بیا ودانولو د کومي مؤسسي نوم پري کښلي وي، د بام پر سر بي د مخابرو لوړ انتنونه ولاړ وي لاندي تري د نوي ماډل لوکس موټر دربدلي وي.

وايي چي اوس دغو مؤسسو په خپل منځ کي د پیوستون ټولنه جوړه کړي، نو، بي دي « د افغاني مؤسسو د پیوستون ټولنه» سـړي نشي ولي چي دغـه نوم ائتلاف دي کـه د اتحاد، څومره مؤسسو پکي شاملي دي او دغه پیوستون به لکه د متحدي جبهي او پخوانیو تنظیمونو څومره ربښتیني او تر کله دوام ولري ؟

زموږ د هیواد په اړه ډير ښه نومونه او سرلیکونه ډير بيځایه او غلط کارول شوي، هیله ده چي د مؤسسو پیوستون لکه د تنظیمونو، ډلو، شوراګانو او داسي نورو پیوستون نه شي چي لا تر اوسه نه سره پیوست کيږي .

د مؤسسو نومونه هم لکه د تنظیمونو او ډلو ښکلي، معنا لرونکي او غولوونکي دي. سړي حیران شي او فکر کوي چي د دومره ډيرو مرستندویه او عمراني مؤسسو

رازونه

له فعالیت سره ښايي افغانستان په تیره کابل ګل او ګلزار واي خو د کابل برخه هماغسي خواره ده .

په نوي ښار کي ددغه وړ يوي اداري پر دروازه لیکل شوي : « پروګرام غذايي جهان ملل متحد، ورسره د جوارو او غنمو د وږو ګیډي انځور شوي، په څنګ کي بي د بایسکل انځور دي چي چلیپا پري کښل شوي او لاندي تري د «نو پارکنګ» ټکي لیکل شوي دي .

پر کابل کیښودل شي پداسي حال کي چي د بایسکل سره ملګري ملتونه دومره حساسیت لري چي پر دروازه بي هم نه پريږدي.

د غنم دا نه هسي هم ښه تاریخ نه لري، ددغه اداري په دروازه د غنمو او جوارو وږي د کابل خوارو او وږيو ته سترګکونه وهي لکه بیا چي د آدم«ع» اولاد ته څه وريښبیدونکي وي - ورسره پر بایسکل بندیز لګیدلي، چي پر بایسکل سپرو پر دغه دروازه د ننوتلو پابندي ده، د پلیو د ننوتو خو ښايي تصور هم بيځایه وي.

د افغانستان د اسلامي امارت د

پټې پاڼې

شهرت ننګیال

سړي حیران شي چي د ملګرو ملتونو د خوراکي پروګرام د بایسکل له پارکنګ سره څه کار ؟

د لوحي معنا دا ده چي دلته دي بواځي لوکس او مدرن موټرونه راځي یعني ماړه خلك دي راځي، ملګري ملتونه د مړو خلکو ځاي دي نه د خوارو وږيو! يو بهرني خبريال لیکلي ؤ پخوا چین ته د بایسکلو نو ښار ویل کیده خو اوس دغه نوم ښايي

وروستي پریکړي له مخي ښايي ټولي مؤسسي د کابل پولټخنیك ته ولیږدول شي، خو مؤسسي شکایت لري او هغه ځاي د خپل فعالیت لپاره مساعد نه ګڼي، لکه چي د دوي د فعالیت لپاره مساعد ځایونه همدا وزیر اکبر خان مینه او نوي ښاروي، د دوي ذهنونه ، قلمونه او د ماغونه بواځي په نوي ښار او وزیر اکبر خان مینه کي فعالیت کولي شي او بس.

بوه خبره چي ښايي د دوي د اندیښني سبب وي هغه دا ده چي په هغه بوه ساحه کي به د دوي ربښتیني شمیر رسوا شي دا اندیښنه په ځاي ده هلته به ضرور د دغو مؤسسو د بهرنیو او کورنیو ماموریتو موټروتو او ... شمیر او راز افشا شي، رازونه چي څومره پټ وي ښه وي.

د بدو سترګو اندیښنه هم شته يو څوك چي په دومره زيات شمیر مؤسسي په بوه ساحه کي ګوري که نظر ماتي ونشي ضرور به په سترګوشي - حکه خو هلته د بدراو سپیلني دود کول ضروري خبره ده چي ښايي لوګي بي هغوي د روغتیا له پاره خطرناك وګڼي .

ښايي موسسي دا ووايي چي په بوه ساحه کي له سلګونو مؤسسو نه په هره کوڅه کي څو موسسي ګټهوري دي، هم به بي اصلي شمیر پټ پاتي شي او هم به نظر ماتي ته ضرورت نه وي، ښايي دغه شمیر او د مؤسسو نور فعالیتونه محرم وي او هغه هم اشد محرم؛ ځکه خو ښايي دا رازونه او اسرار رسوا نه شي، ښايي د پولټخنیك ساحه دغه رازونه او اسرار ونشي ساتلي ، وزير اکبر خان مینه او نوي ښار د رازونو او اسرارو په ساتلو کي تکړه او پاخه دي پولټخنیك په ګولیو داسي سوري سوري دي چي د موسسو دغـي رازونه او اسرار پکي د ځائیدو او ساتل کیدو نه دي.

کورني فقه

پرله پسي ٤١

د سرو اوسپینو زرو، وریښمو او جواهراتو د استعمال حکم

د سرو او سپینو زرو او جواهراتو د لوښو او د وریښمو د بستري استعمال

قاضي محمد حسن "حقیار"

ابن قدامه حنبلي په دي اړه ډيره ښه ربا اچولي ده هغه فرمايي : د حدیث د حکم د عمومیت خاصیت ته په کتني سره دا حکم د ښځي او نارینه دواړو لپاره يو ډول دي ځکه چي ددي شیانو د استعمال د حرمت علت اسراف ، لويي او د نیستمنو د زړه ماتول دي چي دواړه ولي (نارینــــــــه او ښځینه) دا کار کولي شي. پاتي شو د ښځو لپاره د زیور او ګاڼي د جواز مسئله دا جواز ددي لپاره دي چي ښځه پـــــــري میړه ته خپل ځان سینګاروي او د همدي ضرورت په بنسټ بي ورته ددي شیانو د استعمال اجازه ورکړه

امکان لري چي د څو په زړه کي دا سوال را پیدا شي چي که د حرمت علت دا وي نو د یاقوتو او داسي نورو معتبرو او قیمتي کاڼو او ... د ظروفو استعمال ولــــي حرام نه شو کوم چـــــي د سپینو او سرو زرو نه هم ډير قیمتي دي !

ددي ځواب دا دي چي نیستمن خلك له دي شیانو سره اشنا او بلد نه دي او که شتمن خلك بي استعمال کړي نو د نیستمنو زړونه پري نه ماتیږي او بل دا چي دا جواهرات دومره کم پیدا کیږي چي د ظروفو او لوښو جوړول تري امکان نه لري نو ځکه بي د حرام ګرځولو ضرورت هم محسوس نه شو خو د سرو او سپینو

زرو معامله بیا له دینه بیله ده . المغني ج ٨ ص ٣٢٣

له دي لا ملونو پرته يو لامل د مسئلي اقتصادي اړخ هم دي کوم ته چي مونږ پخوا هم اشاره وکړه په حقیقت کي د سرو او سپینو زرو حیثیت د نقدو پیسو یا بانکنوټونو شانه بین المللي سائل شوي ځکه ده او د پیسو یا کاغذي نوټونو لپاره بیه هم همدا سره اوسپین زر ټاکي نو په دي کي يو داسي حاکمانه قوت دي چي هغه د پیسو په قیمتونو کي توازن پیدا کـــــوي او د زر مبادله کـــــــــار ورکـــوي نو الله«ج» په دي ډول ددي د استعمال حکم وکړ چي په دي کي چـلند موجود وي او دا

نعمت بي ددي لپاره نه دي ورکړي چي دا د خزانی په شکل په کور کي وساتي یا د کور د سامان او ظروفو په شکل تري کار واخستل شي.

امام غزالي «رح» فرمايي چي : څوك چي له درهم او دینار(سپینو او سرو زرو) نه د کور لپاره ظروف جوړوي دا په حقیقت کي د نعمت کفران کوي او ددي حـــــــال له هغه چا څخه هم بد تر دي چي د سرو او سپینو زرو امبارونه جوړوي. احیا العلوم کتاب الشکر والصبر

دا فکر باید ونه کړل شي چي ددي شیانو دظروفو په حرمت سره به مسلمانان د کور د ظروفو په هکله له يو ډول تنګسیا سره مخ شي. ځکه چي د پاکو او حلالو شیانو دائره ډيره لويه ده کـــیداي شي چي له نورو قیـــــمتي جواهراتو نه ظروف جوړ شي او له ډيرو قیـــــمتي توکونه بستري جوړي شي.

پاتي لري

د جنازي لمونځ مي هم شوی، په ټول بدن کي مي روغ ځاي نه دي پاتي خو له دي ويره د جهاد د ثمراتو په ضایع کیدلو خفه وم

زه د طالبانو په کارنامو فخر کوم چي زمونږ سرونه يي بیا لوړ او کمونستان يي سرټیټي کړل

يو تن معیوب مجاهد قاري هدایت الله کریمي

قاري هدایت الله کریمي د مولوي رحمت الله زوي د ننګرهار ولایت د سرخ رود ولسوالي د امرخیلو د کلي اوسیدونکي دي په ١٣٥٨ هـ لمريز کال پاکستان ته مهاجر شو هلته بي خپله لومړني زده کړه د بهه بیري د کمپ د شهید اقامحمد او ثانوي زده کړه د سید جمال الدین افغان په لیسه کي تر سره کړه او په ١٣٦٤ هـ لمريز کال له دي لیسي نه فارغ شوي دي، د سالم صحت او روغ بدن خاوند وو، قرآن کریم يي حفظ دي قاري هدایت الله د زده کړي په دوران کي څو څو ځله د جهاد ګرم سنګر ته ورغلي دي او کله به چي چیرته د روسانو قوه لاړ له نو دي به بي هرو مرو مخي‌ته د نورو مجاهدینو ترڅنګ ودرید. کله چي په

١٣٦٧ هـ لمريز کال لوګر ته د روسانو لوي کـتار راغي او په مجاهدینو بي غلچکي بریدونه پیل کړل نو مجاهدینو بي په ډيره میړانه او د ایمان په جذبه مقابله وکړه چي پر له پسي ٥٢ ساعته ګرمه جګړه روانه ځي بالاخره روسانو ماتي وخـوره . قاري هدایت الله په همدي عملیاتو کي شریك وو د مجاهدینو له جملي نه په دي جګړه کي د يو تن شهید جسد پاتي شو او ددي ویره وه چي روسان به بي یا له ځان سره وړي او یا به بي بي حرمتي وکړي نو دا سر شاره مجاهد په

براځي ځان په دي شهید پسي ورغي تر دي چي د روسانو له کمین سره مخ شو او په مخامخ ښته کي څو ځایه سخت ټپي شو چي صحي حالت بي دومره خطرناك وو چي مجاهدینو په دي ګومان چي دي هم شهید شویدي دده د جنازي لمونځ بي هم کړي دي او ١٨٥ کسانو بي په جنازه کي ګډون کړي وو خو دده د ژوند دانه به لا پاتي وه په پښو، لاسونو، سینه سر، څټ او مخ څو څو ځایه لګیدلي دي پوزه، شونډي، سترګي د مخ د چپ طرفه غوښه بي بالکل

نه وه چي پوزي نه بي د تندي، مخ ته بي د شا او د پوزي د کرپندونکي لپاره بي ورته د پخـتني هدوکي راویستي دي چي اوس هم دا پیوندي غوښي پیژندل کیږي بو پختورګي نلري د سترګو له نعمت نه په دنیا کي د تل لپاره بي برخي شو. اته کاله په روغتون کي بستر وو چي اوس الحمد لله د ٥٢ عملیاتو (اپریشنونو) نه وروسته د ګرځیدلودي. قاري هدایت الله کریمي وايي چي کله جهادي زعامتونو د جهاد له اصیل خط نه انحراف پیل کړ او زمونږ هیلي او

ارمانونه يي له خاورو سره خاوري کړل نو مـا به شپه او ورځ ژړل او چانه به مي د خپل معیوبیتوب کیسه نه شوه کولي، کمونستانو به راته پیغور راکاوه .

مـا به چي خپل ټپي ټپي او پیوندي جسم ته کتل ، د خپل جهاد تقدس اهداف او هیلي به مي زړه کي راوګرځیدلي او بیا به مي په افغانستان حاکم حالت وکوت نو لکه د واوري به نور هم ویلي شوم .

قاري هدایت الله وايي چي د طالبانو اسلامي‌تحریك زمونږ هیلي پوره کړي زمونږ د جهاد اهداف بي تر سره کړل شریعت بي

نافذ کړ ، بشپړ امنیت بي راووست زه اوس خوشحاله يم، اوس په خپلي معیوبیتوب خوشحاله يم، زه د طالبانو په کارنامو فخر کوم چي زمونږ سرونه بي لوړ کړل او کمونستان بي بیا راته سرټیټي کړل. دي وايي چي زه د قرآن کریم ختم ډير ژر ژر کوم او طالبانو ته د لاېریالیتوب دعا کوم قاري هدایت الله وايي چي زه څو ځله د طالبانو مرکزو ته ورغلم چي خدمت بي وکړم که نور څه نه شم کولي نو لوښي خو ورته مینځلي شم خو دوي وايي چي قاري صاحب تاته اوس ضرورت نشته اوس ستا دعا په کار دي.

دي وايي چي طالبانو له افغان جهاد او افغان ولس سره دومره احسان کړيدي چي تاریخ به بي هیڅکله هیر نکړي.

د هنر او ادب ننداره

چي کـشـور د افـغـانانو مـعـطر کـا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

میلاد سرور کائنات

عبدالرقیب «جهید»

السـلام آقـاي نامـدار محـمـد مـصطفي«ص»
السـلام اي سـرور و سـردار محـمـد مـصطفي«ص»
یوم مـولودش گـرامي شـد دو شنبـه مـرحـبـا
دوازده بي غـره ربیع انوار مـحـمـد مـصطفي«ص»
اولین و آخـرین را مـقـتـدي ست شـاه رسل
تاج لولاک بر سـرش شـهـوار محـمـد مـصطفي«ص»
عـرش حق بالد بخـود از فـخـر نعلین نبي «ص»
شـد مـشـرف لائق دیدار محـمـد مـصطفي«ص»
السـلام آقـاي نامـدار محـمـد مـصطفي«ص»
السـلام اي سـرور و سـردار محـمـد مـصطفي«ص»
رهـبـر عـالـم امـام مـرسلین احـمـدﷺ بود
داعي توحـیـد، شـفـیع مـذنبـین احـمـدﷺ بود
منجي امت، رحـمـة للعلمـین احـمـدﷺ بود
مـخـبـر صـادق، الوعـد الأمـین احـمـدﷺ بود
هست مـخـتـار رسل، اندر یقـین احـمـد بود
خـاتم پـیـغـمـبران نقش و نگین احـمـد بود
حـامل عـدل و مـساوات مـهـترین احـمـد بود
رهـنمـاي انس و جن اندر زمـین احـمـد بود
السـلام آقـاي نامـدار محـمـد مـصطفي«ص»
السـلام اي سـرور و سـردار محـمـد مـصطفي«ص»

خواندن مولانا انسان را به تحرک و پویایی

پوهیالی لیلما «یما»

اگر کلیه معرفتهاي بشري را از نظر بگذرانیم و به افکار و اندیشه ها و تراویده هاي ذهني متفکران و اندیشه ورزان کنجکاوانه دقت نمایيم اصل هایي را در میـیابیم که وجه مشترکي را میان تمامي معرفتها تشکیل میدهند. یکي از این اصل ها حرکت، جنبش یا پویش میباشد. که اساس معرفتهاي بشري بر روي آن استوار است.

متفکر و اندیشه ورز بزرگ فرهنگ و تمدن اسلامي مولاناي کبیر (جلال الدین محمد بلخي «رومي») نیز از جمله شخصیتهایی است که اصل و اساس تفکراتش بر پایه حرکت و پویش استوار است. وي این موضوع را با تعابیر مختلف در آثارش پرورده است. و از آن طریق پذیرنده گان آثارش را به تحرک و پویایي فرا میخواند. وقتي مولانا از انسان حرف میزند منظور نظرش انسان در حال حرکت – انسان پویا و متحرك و انسان صاحب آرمان است. طبعاً رسیدن به آرمان بدون حرکت و بیداري امکان ندارد و به گفته صاحب نظري حرکت به سوي آرمان و رسیدن به آن بدون عبور تکاپو گرایانه از دشواریها و سنگلاخهاي طبیعت و درنده هاي انسان نما ممکن و میسر نیست.

انساني که در پي کمال و ورزیده گي خود، جامعه خود و جهان بشریت است و امید تعالي آنها را در سردارد به گفته مولانا کبیر نباید از آن رهزناني بهراسد که در سر راهش قرار دارند. به عقیده وي جهاد حقیقي براي رسیدن به هدف جهادي است که علیه رهزناني که در مسیر راه فرد حق پرست قرار دارد، صورت میگیرد.

گفت مرغش پس جهاد آنگه بود
کاین چنین رهزن میان ره بود
از براي حفظ یاري و نبرد
به ره، تا امن آید شیر مرد
عرق مردي آنگهي پیدا شود
که مسافر همره، اعدا شود

واقعاً که همین طور است. چه وقتي انساني تصمیم آگاهانه زنده گي کردن را مطابق خواست حق میگیرد و در جهت بیداري انسانهاي عصرش در حرکت میشود طبعاً با عوامل بازدارنده از حرکت بر میخورد که از جانب باطل پرستان و طاغوتیان در سر راهش ایجاد شده است. همین عوامل در تلاش اند تا با سنگ اندازیهاي خصمانه در سر راه، از تحرك و پویایي انسان مصمم و آگاه بکاهد؛ اما وي که داراي تفکر و اندیشه، عالي است و دشمن سکوت و سکون هر عامل بازدارنده از حرکت را از پا در آورده و موانع را از سر راهش کنار میزند و با فریاد هاي حق طلبانه اش انسانهاي عصرش را به بیداري و به سوي مرز هاي روشن زنده گي فرا میخواند:

اندکي جنبش بکن همچون جنین
تا ببخشدت حواس نور بین

موانع و مشکلاتي که در مسیر راه انسان متجسس و پویا ایجاد میشود هیچگاهي نه تنها او را متوقف ساخته نمیتواند بلکه به توانمندي و مقاومت او مي افزاید و آنچه او را به استقامت در برابر موانع وامیدارد همانا ایمان قوي به ذات احدیت و باور به حق بودن راهي است که او براي خود برگزیده و براي رسیدن به آن تلاش میورزد.

مولانا این شاعر اندیشه ورز که مخالف سر سخت سکون، سکوت و خوابزدگي است پیوسته انسان را به تحرك و پویایي فرا میخواند و حس نوگرایي و نو جویي را در وي بیدار میسازد. میخکوب شدن وي را در گذشته و ناله جغدوارش را بر آن نمیپذیرد. چه او گذشته نگر نه، بل آینده نگر است. و اما حال را نیز از نظر دور نمیدارد و انسان را اینگونه به حال و آینده اش متوجه میسازد و هوشدار میدهد:

هر نفس نو میشود دنیا و ما
بي خبر از نو شدن اندر بقا
جان فشان اي آفتاب معنوي
مر جهان کهنه را بنما نوي

خواست بزرگـمردان اندیشه نظیر مولانا جلال الدین محمد از انسانهاي عصر شان و اعصار بعدي این است که انسانها نباید به خاطر موانعي که در سر راه شان ایجاد میشود، دو دلي را که سد راه خوشبختي است به خود راه دهند و از آرمان خویش منصرف شوند. اگر انسان براي رسیدن به آرمانش خود تحرك و پویایي نشان ندهد و تحمل خلیدن خاري را به پاي خود نداشته باشد وصلت وي به آرمانش امکانپذیر نیست.

گفتیم مولانا انسان را به طور کل پذیرنده گان آثارش را به طور خاص به تحرك و پویایي فرا میخواند این را باید اضافه کنم که وقتي بزرگان اندیشه ورز نظیر مولانا از حرکت و پویایي حرف میزنند، هدفشان شوراندن دست و پا و حرکت بي هدف نیست بل منظور ایشان حرکت دایمي و هدفمندانه یي است که در تمام هستي و منجمله انسان وجود دارد و به سوي مقصود و مراد شان رهنمون شان میسازد.

هدف از حرکت هستي به طور کل به وصلت با آن ذاتي است که از آن جدا گشته است و اما آیا میشوان یکي و یکبار به این هدف واصل شد؟ نه! چنین وصلتي به یکباره ممکن و میسر نیست. همان است که بزرگمردان صاحب اندیشه و از جمله مولاناي کبیر نخست انسان را به شکستن پایه هاي باطل پرستي فرا میخواند، بعداً بالترتیب به خویشتن شناسي، مرده شناسي، جامعه شناسي، طبیعت شناسي و به درك جلوه هاي حق چون زیبایي، حقیقت و ... دعوت مینماید. پس از طي آگاهانه این همه مراحل است که مسأله وصلت به ذاتي که از آن جدا گشته مطرح میگردد.

صوفي عشقري شاعر شیوا بیان کشور ما

سلطانه «رحیم»

صوفي عشقري که در ردیف بزرگترین شعراي کشور ما در عصر اخیر جا دارد؛ نوزده سال قبل از امروز در نهم سرطان چراغ زنده گي این شاعر وارسته در خود فرو رفت و به خاموشي گرائید. انا لله و انااليه ...

مرحوم غلام نبي مشهور به «صوفي عشقري» فرزند عبدالرحیم در تابستان سال ۱۳۱۲ هـ ق مطابق ۱۲۷۱ هـ ش در چهلتن ولسوالي پغمان ولایت کابل دیده به جهان گشود. موصوف به عمر هژده سالگي به دنیاي شعر و ادب رو آورده و در این فن صاحب آوازه شد. مدتي به حیث آموزگار در مکاتب مصروف آموزش اولاد وطن بود، بعد به سیر و سفر پرداخت و در طي سالهاي آخر زنده گي خویش در شوربازار کابل در دکاني مصروف شغل صحافي گردید، در آنروزگار دکان مذکور محل تجمع شاعران، ادیبان و سخن شناسان زیادي بود که از هر گوشه و کنار حضور به هم میرسانیدند و بزمهاي شاعرانه و ادیبانه را در آنجا بر پا میداشتند. ادب دوستان سرشناسي به دکان صوفي عشقري رفت و آمد داشتند، از جمله قاري عبدالله ملك الشعرا، استاد بیتاب، سرور دهقان، انور بسمل، خال محمد خسته، شایق جمال، حیدري وجودي و دیگران که هر کدام شاعر و ادیب سخن سنج بوده و در شعر و ادب معرفتي داشتند.

بحث هاي ادیبانه و شعر خواني در دکان صوفي مرحوم گرم بود که ساعت ها دنباله میيافت و حتي علاقمنداني که تازه به سرایش شعر رو مي آوردند به همین جا آمده و سروده هاي شانرا از نظر شاعران و سخن سنجان مي گذرانیدند.

زبان شعر عشقري بسیار ساده و روان است، داراي مشخصاتي است که در اشعار شاعران پیش از او و معـاصرش دیده نمیشود، احیاناً اگر در اشعار معاصرینش باشد بسیار اندك وجود دارد.

اشعار عشقري را اشعار منظوم دو بیتي ها، اشعار طنزیه و انتقادي و اصلاحي و شعر هاي بزبان محلي و بیشترینه اشعار عرفاني تشکیل میدهد، خلاصه اینکه صوفي عشقري کلیه شکل هاي شعر متداول زمانش از قصیده تا غزل و مثنوي، رباعي، مخمس، مسدس، دوبیتي طبع آزمایي نموده که از هر کدام آن فایقانه بدر آمده است.

عشقري در اوایل زنده گي از دارایي مادي بي بهره نبود و همه چیز برایش میسر و مهیا بود ولي روح بزرگ و انساني او به ثروت مادي و اعتبارات فرعي قناعت نکرد و ببال عشق توانا در فضاي بیکران زنده گي در جستجو مطلوب دیگري که بر تر و عالي است بر آمد.

عشقري میگفت که: «عشق در تصفیه و تزکیه نفس و اعتلا روحي انسان تاثیر فراوان دارد و انگیزه بوجود آمدن شهکاري هاي ادبي هنري جز عشق چیزي دیگري نمیباشد.» اضافه میکرد که «اگر زنده گینامه بزرگان ادب و هنر دقیق مطالعه شود اندیشه ها و آثار شان که باعث دیگر گونیهاي زنده گي انسانها شده است، به همه روشن میگردد که علت ظهور اینهمه مردان بزرگ در ساحات زنده گي جز عشق به انسان و کمال انساني حادثه و انگیزه دیگري نیست.»

عشق و محبت بود که عشقري را صوفي، زاهد و پرهیزگار ساخت چنانچه به شکرانه، این کمالات گفته است:

زنده باشي یار من آئینه وارم ساختي
پارسا و صوفي شب زنده دارم ساختي
در جهان گمنام بودم قیمت و قدرم نبود
صاحب نام و نشان و با وقارم ساختي

صوفي عشقري در زمان حیاتش به صحبت همه بزرگان روزگار خویش رسید و بزیارت عرفاي بزرگ در خارج کشور یعني در بخارا به زیارت بهاوالدین محمد نقشبند بخارایي و در هند به زیارت احمیر شریف نظام الدین اولیا، سرهند شریف و غیره شرفیاب گردید. او با مشرب خاصي که داشت با همه بزرگان صاحب طریق اخلاص و ارادت کامل داشت.

عشقري همه ساله در مزار شریف، بزیارت شاه ولایت مآب حضرت علي کرم الله وجه شرفیاب مي گردید و اکثراً پاي پیاده از کابل تا آنجا منزل میکرد و از جمع شعراي عارف به حضرت بیدل و «مظهر جانجانان» علاقه خاص داشت و آثار این بزرگان را تا آخر عمر با خود داشت و میگفت که اثار بیدل ځکه هیکل را در باورم دارد. و حضرت مولانا را ترجمان محمد مصطفي «ص» میخواند.

گرکتاب مثنوي را خوانده باشي اي عزیز
حضرت مولاي رومي ترجمان مصطفیٰ‌ست

بعد از بیدل به حافظ شیراز احترام و ارادت فراوان داشت، شایق جمال شاعر تواناي کشور با وجود سختگیري هاي که در انتخاب شعر داشت اکثرغزلهاي عشقري رابي‌مانندميخواند.

کلیات اشعار صوفي عشقري بیش از هفتاد هزار بیت میباشد که در دفتر جداگانه یي تدوین شده است و از آن جمله یك سلسله اشعار حمدیه، نعتیه و مناقب بزرگان اسلام که از طبع صوفي عشقري به ظهور پیوسته است زیر عنوان «دل نالان» اقبال چاپ یافته است. همچنان یك تعداد اشعار آبدار دیگرش بنام دیوان عشقري آزین چاپ یافته است.

کتاب دیگر اشعار عشقري بنام کلیات صوفي عشقري از خاك تا افلاك عشق توسط حیدري وجودي یك تن از شعراي کشور به طبع رسیده است.

رښتوني انځور

داکتر بازمحمد «ښادمن»

نسیم د ازادي کي مي اشنا راته خندیږي
اشنا راته خندیږي دا دنیا راته خندیږي
د عشق ذره بي راکړه زما زړه بي په‌حجاب کړ
موسکي، موسکي احساس‌مي‌هرساراته‌خندیږي
ما وي چي اي نسیمه را نژدي شه را نژدي شه
په وړین تندي د فکر مسیحا راته خندیږي
د میو پیالي نشته دا د ښکلو بوټي واخله
نشه ډېره نشه شوه دا فضا راته خندیږي
میرویس نیکه ژوندي شو احمدشاه‌بابا راپاڅېد
په غوږ کي د خوشحال بابا وینا راته خندیږي
انځور مي ترینه واخستو د زړه په انګو کي
په الا الله قسم ده هره خوا راته خندیږي
«ښادمنه» په ښادي باندي‌خوشال‌اوسه‌بیدارشه
د اوښکو دوران تیر شواوس‌خدا‌راته خندیږي

روح وریحان

ملا محمد خالد «ستانکزي»

طالبان آمد به کشور روح و ریحان را نگر
نظم و قانون شریعت شمع تابان را نگر
ملحدان و مفسدان از صحنه گردید نا پدید
شادمان قوم ـــ مسلمان عهدوپیمان‌رانگر
شد بساط ظلم و وحشت چیده‌ازفیض‌جهاد
از قدوم طالبان بزم شگوفان را نگر
ملت مظلوم ما از جورو ظلم مفسدان
آمدند اندر ستوه آئین قرآن را نگر
دوستم ملحد، مزاري و شوراي نظار
در تباني خلق و پرچم ظلم عریان را نگر
از قضا دست قدرنوشت سرشت عدل و داد
طالبان و عالمان با شوکت و شان را نگر
مرد و زن در صلح و آسایش فراخوان آمده
گفت «ستانکزي» وطندار فضل سبحان را نگر

مه پرېږدي؟!!

داکتر محمد نذیر «احمدزي»

یا تورو طالبانو! ننګیالیو مجاهدینو او پر خداي مینو افغانانو! مه پرېږدي چي ساحل ته رسېدلي بېړي مو بو ځل بیا توپاني څپي واخلي او د ډوبیدو په لور یې وخوځوي، مه پرېږدي چي په وینو خروب شوي رنګین ګلان مو مخکي له غوړېدو د بېرحمو کارغانو په ناولو مشوکو پاڼي پاڼي شي، او مه پرېږدي چي د ارمانونو ودانه ماڼۍ مو پخوا له دي چي رنګینه شي او یوه شیبه آرام په کي وکړي د غلیم د ګذارونو له لاسه ونړېږي.

هوا بېړي مو ساحل ته رسېدلي، د بڼ ګلان مو د غوړېدو په درشل کي دي او د ارمانونو ماڼۍ مو ودانه شوي، خو پوهېږي چي بېړي مو ولي ډوبېږي او څنګه یې له ډوبیدو سانلاي شي؟ د رنګین بڼ ګلان مو څنګه د غوړېدو پړاو ته رسېږي او ولي د کارغانو د مشوکو څوکو ته برابرېږي؟ او ودانه شوي ماڼۍ مو په څه رنګینېږي او ولي ړنګېږي؟ دا هغه پوښتني دي چي ځواب یې د لوي خداي«ج» په مبارك کلام کي روښانه شوي او په صراحت سره د مهربان پالونکي لخوا د پورتنیو نعماتو د لاسته راوړلو رمز بېودل شوي. په قرآن کریم کي یه دي هکله داسي راغلي چي: ان الله لا یغیر ... یي له شکه خداي پاك «ج» بدلون نه راولي په حالت د یوه قوم یا ولس کي، تر څو چي هغوي بدلون رانه ولي په حالت د نفسونو خپلو کي، یعني د نفس د څرنګوالي او عمل په بنیاد، برخلیك او وضعیت د هر ولس او هر کس برابرېږي. چا چي د نیك عمل ګاڼه په غاړه کړه او د ښو په لټون کي شو نو خامخا به خداي پاك «ج» د نیکمرغي جامي ور اغوندي او هغه څوك یا کوم ولس چي په بدو پسي ګرځي نو خامخا به به پرځي. د دي حقیقت عملي بېله مونږ په خپل تیر شل کلن تاریخ کي د سر په سترګو ولیده، هغه وخت چي د ایماني جذبي او الهي توکل درلودونکي افغان په اخلاص د تکبیر نار پورته او د جهاد د فریضي سرته رسولو ته تیار شو نو وصولیدل چي د کمونیزم زبر ځواك یې راوپرځاوه. خو کله چي بیا هم دا کس د هوا او هوس په غوښتنو کي ډوب شو نو بیا مو هم ولیدل چي د هغه انجام څه شو؟ اوس هم که عزت چي الله«ج» زمونږ په نصیب کړي هغه له اسلام او جهاد سره د اخلاص له کبله را په برخه شوي نو که خداي مکړه له الهي لیکو څخه په چپ شو او د خداي د رضا پر ځاي د مخلوق د رضا او یا د خپل نفس د خرېښي لپاره د اسلام روښانه لار پرېږدو نو پاي به یې ډېر تریخ وي هوا ډېر تریخ ... نو مه پرېږدي چي زمونږ د ناوړو کړو وړو په تیاره کي د الهي لښکر او اسلامي نظام په روښنا لار باندي تیاري پریوځي او د مسلمان امت ویني او اوښکي خوښي توبي شي. یقین وکړي چي د هر کس، هر کوچني یا لوي عمل د اسلامي نظام د ودانۍ یوه ډېره اړه خښته ده، که زمونږ کړه وړه نیك وي نو خداي«ج» ته امید شته چي ډېر ژر به د هغه ښکلي نظام سیلي زمونږ په ټول هېواد کي په چلیدو شي کوم چي د دنیا او عقبی د سوکالي او خلاصون ضامن دي او که په خوله مو ښه ویل او په عمل کي مو د شیطان بندګي کوله نو دا ویره شته چي خداي مکړه دا رسیدلي ودانۍ مو مخ په ړنګیدو او شړیدو شي او هغه مهال به بیا پښېماني ډېره ګټه ونه لري. نو همدا اوس هم لا وخت ډېر دی مه پرېږدي چي وخت مو له لاسه ووځي او د دیلمن د خولي مڼي شي، مه پرېږدي! مه پرېږدي!

محترم الحاج استاد قاري برکت الله «سليم» در مصاحبه با ...

تدريس آموزش قرائت و تجويد قرآن مجيد ميباشيد؛ در جاي ديگر نيز مصروفيت تدريس را داريد و يا خير ؟ وي بعد از حمد و ستايش خداوند«ج» و درود بروان پاك سردار عالم «ص» چنين اظهار داشت : در منزل كوچك خويش كه در منطقه تايمني وات موقعيت دارد بر علاوه اينكه محل بود و باش بنده ميباشد از مدت ۲۳ سال بدينطرف در آنجا آموزش قرائت ، حفظ و تجويد شريف را براي علاقمندان به پيش برده و مصروف تدريس ميباشم .

محترم الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» افزودند : مدت ۲٦ سال ميشود كه مصروف تدريس آموزش قرآن مجيد در وطن عزيز خويش بوده كه مدت ۲۳ سال آن در همين منزل كوچكم كه حيثيت مدرسه را نيز دارد سپري گرديده است، فعلاً در آن در حدود ۳۰۰ نفر از شاگردان در اوقات مختلف مطابق به يك تقسيم اوقات منظم مصروف آموزش و فراگيري قرآن عظيم الشان ميباشند.

محترم قاري صاحب در پاسخ به اين سوال كه : تا حال در چند مسابقه جهاني قرآئت قرآن عظيم الشان اشتراك ورزيده ايد و نتايج آن چگونه بوده است ؟ چنين پاسخ ارائه نمودند : تا اكنون در دوازده مسابقه جهاني قرائت قرآن مجيد اشتراك نموده ام كه نتايج همه آنها لله لحمد مقام اول بوده كه خداوند بزرگ «ج» مرحمت بي پايان خويشرا شامل حال بنده عاجز خويش نموده و افتخار آنرا براي كشور محبوب ما افغانستان بخشيده است.

– آيا گاهي اتفاق افتيده است كه در مسابقات جهاني با قاري مشهور جهان عرب و اسلام، استاد عبدالباسط با هم مواجه شده باشيد و نتيجه آن به نفع كدام يكي از شما تمام شده است ؟ محترم قاري صاحب در جواب به اين سوال گفت : اين يك امر طبعيست كه هم رشته ها وقتيكه در يك محفل بزرگ و يا در مسابقات جهاني اشتراك مي ورزند با هم ديگر حضور مي يابند، مرحوم استاد عبدالباسط كه از كشور عربي مصر بود و در اكثر مسابقات بين المللي اشتراك ورزيده است بايد ياد آور شوم در آغاز سال ۱۳۵۷ در يك مسابقه جهاني تلاوت كلام الله شريف كه در شهر مطهر مكه معظمه تدوير يافته بود با هم يكجا اشتراك داشتيم كه نتايج آن باز هم كه لطف خداوند شامل حال بنده عاجز شد يعني مقام اولي را كسب نمودم كه سند آن عبارت از مدال اولي و تقدير نامه ميباشد در نزدم موجود است .

شايان ذكر است كه براي مرحوم عبدالباسط يك مقدار خدمت هاي انجام داده شده بود كه باعث شهرت عالمگير آن در جهان اسلام گرديد كه از آنجمله مؤظفين خاص امنيتي، داكتر موظف ، محل بود و باش منظم، غذاي مكلف، مطابق تقسيم اوقات جداگانه، استديو ثبت عصري با تمام وسايل، تكثير منظم كستها و حتي وسايل كمپيوتري تصفيه صدا، دستگاه سيار ثبت و غيره در حاليكه پنج فيصد از آن امكانات براي ما مساعد نمي باشد .

گاهي هم واقع ميشود كه جهت تدريس قرآن مجيد به شايقين آن از منزل خويش تا اين مدرسه و غيره محل كه ضرورت به انتقال بنده ميگردد، به يك و يا چند ليتر تيل موتر مشكل ايجاد ميشود، كدام مرجع است كه مساعدت نمايد ؟ چه رسد به اينكه به ديگر ضروريات فكر شود. طوريكه بعرض رسانيده شد با وصف امكانات ناچيز فقط لطف خداوند«ج» است كه نام بنده نيز محدود و محصور به يك كشور نمانده، بلكه در جهان اسلام ، بخصوص در كشور هاي عربي از شهرت و عزت كافي برخوردار مي باشم.

زمانيكه از محترم قاري صاحب پرسيدم كه در جريان سفرهائيكه به خارج از كشور بخاطر مسابقات تلاوت قرآن مجيد داشتيد؛ آيا گاهي از شما دعوت اقامت در آنجا صورت گرفته است و يا خير؟ وي در پاسخ چنين گفت : قسميكه قبلاً تذكر دادم كه د ر جهان اسلام خصوصاً در كشور هاي عربي كه جريان تلاوت قرآن مجيد را از نزديك مشاهده نموده اند و يا از طريق امواج راديو و پروگرام هاي تلويزيون خويش شنيده و ديده اند، لله الحمد از عزت بس بزرگ برخوردار مي باشم روي اين ملحوظ بوده كه دعوت اقامت را در كشور هاي خويش نموده اند، مگر از اينكه وطن و مردم عزيز كشور محبوب خويشرا سخت دوست دارم و در هر نوع شرايط با هر نوع امكانات محدود و ناچيز در هر كجا با وصف يك سلسله مشكلات اقتصادي در خدمت هموطنانان عزيز خويش قرار داشته و دارم از اينرو از دعوت ايشان صرف نظر نموده ام . اگر در بيرون از كشور ميبودم شايد عرصه فعاليت بيشتر برايم مساعد گردد كه باعث شهرت وسيع خواهد گرديد، مگر دوستي وطن و مردم بلا كشيده اين خطه را از همه امتيازات مادي ديگر ترجيح ميدهم.

محترم الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» در مورد تعداد اشخاصيكه تا الحال از دروس شان بهره مند گرديده اند؛ چنين معلومات ارائه نمودند : از مدت ۲٦ ساليكه بدينسو مصروف تدريس در وطن مي باشم تا الحال تعداد كسانيكه به سويه هاي مختلف از دروس بنده كم و زياد بهره حاصل نموده اند از سي هزار نفر افزون بوده است . در گذشته ها طوريكه اطلاع داريد از برنامه درسي بنده از طريق پروگرام تلويزيون و امواج راديو استفاده جمعي صورت ميگرفت كه فعلاً هم لله الحمد از طريق امواج راديو ادامه دارد . البته ارقام دقيق قارئان برايم خيلي مشكل ميباشد كه بگويم، متاسفانه در وطن ما اگر بعضي از شاگردان و شايقين به يك اندازه شهرت و كمال دست يابند در آنصورت است كه خود را كاملاً خود كفا دانسته آموزش را كنار گذاشته در پي كار هاي ديگر كه منفعت دنيايي داشته باشد مشغول ميگردند . مشكل اقتصادي ، فقر مادي، ادامه جنگ ها و ديگر همه عواملي اند كه به مفكوره جوانان ما صدمه وارد نموده و آنها را هر طرف سرگردان و پريشان ساخته است .

محترم الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» در پاسخ به سوال اخير خبرنگار ما كه : در ذهن بعضي از برادران اين سوال ميباشد، با وصف اينكه شما عالم تجويد ، قرائت و حافظ قرآن مجيد مي باشيد!به چه علت در سال هاي دوران جهاد ، هجرت را اختيار نكرديد؟ چنين اظهار داشتند : الحمد لله والمنة افتخار اين را دارم كه به همراه برادران مجاهد وطن عزيز خويش مصروف جهاد بخاطر آزادي وطن بودم ، مطابق به حد و توان ناچيز خويش در جهاد اشتراك داشته و همچنان در وقت و زمان آن تماس با بزرگان مجاهدين صورت گرفته است و در مورد هجرت از آنان مشوره و نظر خواسته شده است كه آيا هجرت نمايم و يا چطور؟ شواهد انكار ناپذير موجود است با اشخاصيكه در تماس و مفاهمه بودم هدايت دادند كه موجوديت شما در آنجا براي برادران مجاهدين مؤثر است، زيرا جهاد محدود و محصور در يك محل و منطقة معين نبوده بكله در همه اطرف و اكناف كشور فراگير بود. در شهر كابل عده يي از علماي كرام كه در صفوف جهاد وجود داشتند، همراه با بنده آشنايي و معرفت دارند، منحيث يك فرد مسلمان با قاطعيت و مسؤوليت ياد آور ميشوم كه وظيفه ايماني ، وجداني و افغاني خويش ميدانستم تا شاگردان و علاقمندان خود را با روحيه اسلامي ، جهاد و وطندوستي تربيه نموده و آنها را در موقع مناسب و مساعد وقتاً فوقتاً به صفوف جهاد اعزام نمايم . همچنان اكثر اوقات در اثناي تدريس خويش آيات جهاد را تلاوت مينمودم و در هر كجايي كه بوده ام سر و كارم با كتاب الهي كه قرآن مجيد است بوده است .

اين يك حقيقت مسلم است كه تربيه نمودن اولاد وطن مطابق دستور شريعت مقدس اسلام عزيز در ذات خويش جهاد ميباشد . در پهلوي اينكه هميشه در دعا هاي خويش در ختم هر دروس و هر مجلس از بارگاه اقدس كبريايي براي مجاهدين و مسلمانان موفقيت و پيروزي آرزو مينمودم، بلكه چندين تن از شاگردان خويشرا عملاً به صفوف مسلحانه جهاد اعزام داشته ام. البته تاثير دعاي فقرا و طبقه مستضعفين بخاطر پيروزي جهاد براي امت مسلمه يك امر ضروري ميباشد كه نقش بس موثر و بزرگي را در عرصه نبرد دارد ، اولياي كرام و انبياي عظام چنين چيز را توصيه و تاكيد نموده اند. كست هاي كه در آرشيف راديو و تلويزيون موجود است ، مويد حقيقت گفتار فوق ميباشد.

گرچه براي يك نفر نابينا كه معذور مي باشد خداوند«ج» هجرت و جهاد مسلحانه را امر نفرموده است ، ولي ما آن را بهانه قرار نميدهيم، حسب توان ناچيز خويش آنرا انجام داده ايم . حتي گفته ميتوانم كه منزل كوچك بنده به محل پرورش جوانان مجاهد و مسلمانان عقيده مند به جهاد و بالاخره به مركز پناهگاه يك عده از مجاهدين شهر كه احتمال دستگيري ايشان ميرفت در آنموقع و زمان تبديل گرديده بود اگر خداي ناخواسته به امر جهاد و وطن خاين ميبودم امروز درينجا در بين برادران مجاهد و علماي كرام البته زنده گي برايم دشوار و غير قابل تحمل مي بود.

هميتكه در سالهاي ۱۳۵۷ الي ۱۳۷۱ كمونيست ها جوانان را به سوي لا ديني سوق ميدادند و بنده آنان را به سوي حق و آگاهي از مكتب قرآن فرا ميخواندم : آيا اين خود جهاد نيست ؟

محترم الحاج استاد قاري بركت الله «سليم» خطاب به ملت مجاهد و مسلمان اين كشور و شهريان كابل گفت : پيام و آرزو مندي دايمي ام اين بوده و هست كه بايد جوانان وطن عزيز ما از استعداد جواني خويش استفاده نيك بعمل آورده و آنرا در امور خير كه از جمله فراگيري قرائت قرآن مجيد، حفظ و آموزش تجويد و ديگر علوم اسلامي ميباشد بكار اندازند.

تا جائيكه به بنده ناچيز تعلق ميگيرد درين راه و آرمان مقدس از هر نوع امكانات كه در دسترس خويش دارم براي هيچكس دريغ نورزيده و هميشه خود را در راه خدمت به هموطنان خويش مسرور احساس مينمايم .

از مردم شريف و شهريان عزيز كابل تقاضا مينمايم، با وصف اينكه در يك حالت مشكلات اقتصادي شديد قرار دارند تا اميدي را بخويش راه نداده با كمال شجاعت و پايمردي مانند سالهاي گذشته استوار باشند و با اشتراك خود شان و پسران شان از اين موقع استفاده نموده و يا حد اقل يكي از اعضاي خانواده خويشرا تشويق و ترغيب نمايند كه از مكتب قرآن خود را مستفيد سازند. تا باشد به بركت جاري شدن تعليم قران و ديگر علوم اسلامي اين همه مشكلات عايده در كشور به امن و سايش دايمي مبدل گرديده و امور دنيا و اخرت مان معمور گردد.

مسابقات واليبال ...

حقوق دو مقابل صفر بر تيم پوهنځي اقتصاد و تيم واليبال پوهنځي فارمسي دو مقابل بر تيم پوهنځي وترنري غالب گرديدند.

امريكا به په ملګرو ملتونو ...

ته يو نيم مليارد دالر پوروته ادا كړي .

د يادولو وړ ده چي د پورونو په سرد امريكا او ملګرو ملتونو تر منځ د څه مودي را په دي خوا لانجه روانه ده .

يك قطعه زمين از وجود بته ...

در ساحه نيم جريب زمين در قريه ابراهيم خيل آنولايت زرع شده بود توسط موظفين مربوط قطع و عاملين آن دستگير گرديدند.

زارعين چرس پس از ندامت از اعمالشان و دادن ضمانت رها گرديدند .

د امنيت د نشتوالي له امله ...

د عيني شاهدانو په قول د جنايتونو او ووړ ووړ ظلمونو دوام او د مليشو لخوا د خلكو د مال او شتمنيو لوټول په دغه ولايت كي خلك ډير په تنګ كړي او ددي سبب شوي چي زموږ زيات شمير هيوادوال يا د اسلامي امارت تر واكمني لاندي سيمو ته او يا هم پاكستان ته هجرت وكړي .

عيني شاهدان وايي چي د تخار ولايت خلك د امنيت او مسوولو ادارو د نشتوالي او لوټ او تالان د دوام له امله له دغه ولايت نه تيښتي او د خپل عزت او ابرو د ساتلو په خاطر هجرت كوي او خپله شتمني بي هغو مليشو ته چي د ملت د وينو او د جګړي د دوام په بركت سره ژوند كوي پريښي دي.

په مناسبت دستار بندي ...

برجسته ساختند. در پايان محفل آن عده از حافظان كه با موفقيت در حفظ قرآن عظيم الشان از خود شايسته گي نشان داده بودند دستار بندي گرديده و وعده هرگونه از خود گذري را در امر حفظ قرآن عظيم الشان به اولاد وطن سپردند.

د جبري عسكري خدمت ...

بحران په رفع كيدو سره د روسي پوځيانو د ځان وژني او تيښتي مخنيوي وكړي. مګر تر اوسه په دي نه دي بريالي شوي.

د كرنې او مالداري يو ...

حق الشمول په وركولو سره د اته سوه نهه اويا جريبه ځمكي په ساحه كي جوړ شوي چي تر اوسه دوه سوه دري غلوبيشت ځاروي او دوه سوه پنځه غلوبيشت چرګان پكي ثبت شويدي.

د يادولو وړ ده چي همدا اوس په هيواد كي د كرني اوطلداري اوه سوه اوه ديرش كوپراتيفونه فعال دي او خپلو د اسكاناتو په چوكاټ كي د كروندګرو او مالدارانو په خدمت كي دي .

بايد وويل شي چي د ثور د كودتا او افغانستان باندي د روسانو تر يرغل وروسته او هم د رباني د مفسدي اداري د جنګونو په دوران كي د هيواد كرني ته زيات زيان رسيدلي چي د افغانستان اسلامي امارت د هغې د بيا احيا او ابادولو په خاطر ګټور اقدامات كړيدي.

د سرپرستي شوري ...

الدين شيرزايي د ټولو هيوادوالو په تيره بيا كابل ښاريانو ته د خوراكي مواد او تيلو د رسولو په باب ژمنه وكړه او د كابل ښار مستحقينو ته د مرستي په خاطر يي د لس مليونو افغانيو يو چك د سرپرستي شورا محترم رئيس ته وړاندي كړ .

د سرپرستي شورا محترم رئيس دده له همكاري څخه قدرداني وكړه او د ټولني د خير او فلاح د بي وزلو سره د مرستي او په نورو برخو كي يي د هيواد د ملي سوداګرو مسوليت بيان كړ او هغوي يي د لومړنيو موادو او د هيوادوالو د اړتيا وړلو ازمو او شيانو واردولو ته وهڅول.

يادونه

ښايي ستاسو ايمان په اجازه درنكړي چي دا ووړ سپيڅلي پاڼي په ناوړو ځايونو كښي وغورځوي.

د ګڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

د فارياب فتحي ائتلافي ډلګي وربرد ولي

په الهي نصرت او د اسلامي اردو د ميړنيو مجاهينو د سربښندنو له بركته د فارياب په ولايت كي يو ځل بيا الهي نور په ځليدو شو او د دی ځلكا د شمال ټولو تر ظلم لاندي پرګنو ته د خلاصون زيري وركړ ، له ډيره وخته راهيسي په شمال كي د پرديو د لاس پوځي ائتلاف واكدارانو دا ډركي وركولي چي ګواكي د دوي ځواكونه به ډير ژر د شمال سيمي د اسلامي امارت له مجاهد لښكر څخه بيرته ونيسي او په دي هكله يي څو ځلي ناستي هم وكړي، ګڼ او پراخ تبليغات يي هم په كار واچول او له خپلو بهرنيو واكدارانو څخه يي زياتي مرستي هم تر لاسه كړي خو لكه ځرنګه چي دا يو الهي سنت دي چي باطل به را پرزيږي او حق به د باطل ځاي نيسي نو هماغه وه چي بالاخره ټاكل شوي ورځ را ورسيده او د حق لښكريان د شهادت په هيله او د شمال د مظلومو مسلمانانو د خلاصون په تكل د توپان په څير د باطل او ظالم پرسر ورپريوتل او په مرګونو او تندربزو ګوذارونو يي د مفسدو داړه مارو مليشو صفونه وځپل او هغوي يي نيست نبست كړل، د فارياب ولايت ته د الهي لښكر له رسيدو سره سم د سيمي مومن او پر خداي مين اوسيدونكي چي د مليشو ظلمونو يي زړونه زخمي كړي ؤ او له ډيري مودي را په دي خوا د اسلامي امارت د نجات بخښونكي لښكر ورتګ ته سترګي په لاره وه د اسلامي اردو د مجاهدينو هر كلي ته را ووتل د هغوي په غاړو كي يي د ګلانو اميلونه واچول او دګلم جمانو له ظلم څخه يي د خلاصون شكرانه پر ځاي كړه چي دا ټكي هم ډير د حساب وړ خبره ده كه د اسلام ددښمنانو او مليشه اي ډلو په خوله هغوي د هيواد د شمالي ولاياتو د خلكو نمايندګان واي نو د سيمي ولس به د هغوي د وركي دعا نه كوله او د اسلامي اردو ورتګ ته به يي سترګي په لاره نه وي د فارياب ولايت فتحي هغه چوپه چوپتيا يو ځل بيا ماته كړه كومه چي د اسلام دښمنانو د مفسدو مليشو په ګټه ګنله او د مليشو د متو د مظبوتيا خبره يي كوله پر مليشو دا تندريز عمليات دومره سخت تمام شول چي هغوي خپله ملا ماته وګڼله او په ژړا يي يو بل ته ورمنډي كړي له رباني نه راناو شول او په چيغو چيغو د بل په غيږ كي پريوتل او په پاي كي يي اعلان وكړ چي ملګري ملتونه او نور نړيوال بايد ددوي د ظالمي واكمني د دوام په خاطر متي را ونغاړي او د اسلامي اردو د پر مختګ مخه ونيسي خو انشاء الله نن هغه ورځ رارسيدلي چي دوي به د شمال د مجاهد ولس د قهر او بدل په اور كي سوځي او د خپلو ظلمونو حساب به ورته وركول كيږي او اسلامي اردو به د سيمي د مسلمانو خلكو په حمايت د هيواد ټولي پاتي سيمي له مليشو څخه پاكوي. د فارياب له فتحي سره سم د عاليقدر امير المؤمنين له حكمته ډك حكم هم ډير د پام وړ دي چي په ډيرو نازكو حالاتو كي د دارنګه پريكنده تصميم نيول د هغه ايماني زيركتيا او خداي وركړي پوهي ښكارندويي كوي .

عاليقدر امير المؤمنين د محترم ملا خير الله خير خواه تر مشري لاندي يو كميسيون وټاكه تر څو د مفتوحه سيمو د نظم او امنيت او د مسلمانانو د هوسايي لپاره لازم اقدامات وكړي دا حكم ښيي چي د اسلامي امارت مشران داسلام د اساساتو پر بنا د مسلمانانو له خلاصون او سوكالي نه پرته بله هيله نلري. د فارياب له فتحي سره سم ټول افغان مجاهد ولس او د اسلامي اردو مجاهدينو ته په كار ده چي د لوي خداي«ج» شكر په ځاي كړي، په خپلو عملونو كي نور هم د تقوي لاره خپله كړي او ځانونه د الهي نصرت جوګه وګرځوي ډير نژدي ده چي انشاء الله د مجاهدو طالبانو او افغان شهيد پال ولس د وينو او اوښكو په بدل كي به لوي خداي«ج» پر ټولو ورحميږي او د ظالمانو كمپله به زموږ له هيواد نه ټوله كړي .

و ما ذالك علي الله بعزيز

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press